**بغلان پوهنتون**

**د څېړنو او علمي مجلې معاونیت**

**د استادانو د علمي کنفرانس (ترفیعي او غیر ترفیعي) د متن چمتو کولو لنډ لارښوود**

**د کنفرانس عنوان باید لاندې ځانګړنې ولري:**

- ✓ د استاد د تخصصي څانګې اړوندو وي.
- ✓ لږ تر لږه د اړوند دیپارټمنټ (څانګې) د یوه مضمون او رسمي کاریکولم له منځپانګې سره تړاو ولري.
- ✓ روښانه او لنډ وي (د عنوان کلمې تر ممکن حده کمې شي).
- ✓ څرګند، معنی لرونکی، له ابهامه پاک، د فهم وړ او جالب وي.
- ✓ له یوې مسالې سره تړلې وي.
- ✓ نوی والی او لومړیتوب ولري، له اسلامي، حقوقي او اخلاقي ارزښتونو سره په ټکر کې نه وي.
- ✓ د منځپانګې ویاند او بیانوونکی وي.
- ✓ پوښتنیز نه وي ( په پوښتنه نه وي پیل شوی)، اختصاري عبارت ولري.
- ✓ کلي او ډېر پراخه نه وي.

**د کنفرانس د موضوع سریزه (مقدمه) باید لاندې ځانګړنې ولري:**

- ✓ غوره به وي چې مقدمه د عنوان د یوه زړه راښکونکي تعریف په وړاندې کولو سره پیل شي.
- ✓ په مقدمه کې د پخوانیو مطالعاتو پر بنسټ د کنفرانس د موضوع ضرورت او اهمیت څرګند شي.
- ✓ دا چې کنفرانس ورکونکی د کومې انګیزې له مخې د کنفرانس د موضوع وړاندې کولو ته لېوالتیا لري، په لنډون سره بیان شي.
- ✓ د مقدمې په وروستي پراګراف کې باید د کنفرانس د موضوع اړونده انګیزه هم وړاندې شي.

**د کنفرانس موضوع د مسالې بیان**

مساله باید له کل څخه جز ته د راتلو له لیده بیان شي. مستنده وي، تر مطالعه لاندې مساله په حقیقت کې د علمي موضوعاتو په اړه د پوهانو تر منځ د اختلافاتو او د ژوند په شته واقعیتونو کې د ابهام په اړه د اړین معلومات او یا د پوهې کمښت / نشتوالی کېدلی شي. غوره به وي چې د مسالې طرحه او بیان د مقدمې په متن کې په روښانه ډول راوړل شي.

**تر مطالعې لاندې مسالې ځانګړنې**

- ✓ باید د کنفرانس د عنوان په څېر په یوه خبري جمله کې ولیکل شي، مستنده شي، یعنې د څېړونکو د سرچینو پر مطالعه او پایله ولاړه وي. یا دا چې د شته واقعیتونو د مطالعې او تجربو ته په پام سره تر لاسه شوې وي، وړاندې کونکی دې مساله په منطقي ډول مطرح کړي.

- ✓ په علم کې شته ستونزو ته اشاره وکړي. شواهد باید څرګند کړي چې په ټولنه کې یوه معضله شته ده (مساله دې مستنده کړل شي)
- ✓ جالبه او مهمه وي، څو د موضوع اهمیت او ضرورت ارزیابي کوونکو او لوستونکي ته منعکسه کړي.
- ✓ ټول اړخونه، پراخوالی، شدت او حدود یې باید توضیح شي.
- ✓ باید ډېره زیاته کلي نه وي، د مطالعې وړ او اجرا کېدونکې وي.
- ✓ باید په دقیق ډول مطرح شي، څو مجهول یا نا معلوم اړخونه یې وپېژندل شي.
- ✓ له نورو لاملونو سره یې تړاو او ورڅخه پیدا کېدونکې عارضې هم توضیح شي.
- ✓ مطالعه کېدونکې مساله ډېره څرګنده او بې ابهامه وي.
- ✓ د څېړنې مساله باید د دوو یا څو متغیرونو تر منځ د اړیکې څرنګوالی وستایي او تجربه مننونکی وي.

**د کنفرانس د موضوع موخه**

د کنفرانس موخه تر مطالعه لاندې مسالې ته په پام سره کشف، توصیف، تفهم، بیان، وړاندوینه کېدلی شي. موخه د یوه علمي فعالیت په تر سره کېدو کې همغه پایله ده چې وړاندوینه یې شوې. یا هم د هغه علمي فعالیت نهایي مقصد دی چې کنفرانس ورکوونکی غواړي ور ورسېږي او داوري ته یې وړاندې کړي. په ټولګه کې د هر ډول څېړنیز فعالیت موخې د علمي کنفرانس غوندې د عنوان او مسالې له لیده مطالعه کېږي. د کنفرانس وړاندې کوونکی باید د موخې په ټاکنه کې د داسې څه وړاندوینه وکړي چې د کنفرانس په موضوع کې غایي، کابردي او د اختصاصي موخو درلودونکی وي.

**د یوه کنفرانس موضوع د موخې په ټاکنه کې باید لاندې معیارونه رعایت شي:**

- ✓ داسې موخه چې روښانه، واقع بېنانه، د فهم او باور وړ وي ( له خیالاتواو توهم لرې وي).
- ✓ موخه باید د مطالعې، پلټنې، سنجونې او اندازه اخیستنې قابلیت ولري.

**د کنفرانس د موضوع اهمیت**

هڅه دې وشي چې د کنفرانس موضوع اهمیت له کلي موردونو پیل او په جزوي مطالبو ختم شي، عمدتا داسې مطالب وړاندې شي چې د کنفرانس د موضوع اهمیت توجیه کړي. په دې برخه کې دې د موضوع نظري او کاربردي اهمیت په لنډون سره توضیح شي. دا چې د کنفرانس موضوع له کوم اهمیت او ارزښت څخه برخمنه ده. دا هم باید څرګنده شي چې وړاندې شوي مطالب کومه ستونزه حل کوي، د کومو کسانو لپاره اهمیت لري او کومې ناخوالې حل کولی شي. هېره دې نه وي چې د موضوع اهمیت په مقدمه کې هم مدغم کېدلی شي.

**د اطلاعاتو د راټولنې روش**

کنفرانس ورکونکی باید د اطلاعاتو راټولونې ته اشاره وکړي، چې د کنفرانس مطالب یې د کوم روش پر بنسټ را ټول او تنظیم کړي دي.

**اصلي منځپانګه:**

د کنفرانس د کلي عنوان اړوند مبحثونه باید د سرچینو یادونې (د لمن لیک یا بل معمول روش په وسیله) ته پام سره چمتو شي. د کنفرانس په محتوا کې د جدولونو او ګرافونو راوړل جواز لري. د سرچینو څخه د اطلاعاتو په را ټولولو کې باید د امنتولۍ او بې پرېتوب اصل ته درناوی وشي او کومه علمي – ادبي غلا باید موجوده نه وي.

**بحث (مناقشه)**

مناقشه په حقیقت کې د مطالعه کېدونکې موضوع د پایلو تفسیر او تحلیل دی. د مناقشې قوت او کیفیت د کنفرانس ورکونکي په وړتیا او علمي تبحر پورې تړاو لري. مناقشه اصلا یو کیفي تحلیل او تفسیر دی. کنفرانس ورکونکی باید د کنفرانس له محتوا څخه خپل درک او اخیستنې ته پام سره د کنفرانس د موضوع اړوندو اختلافاتو او شریکو لیدلورو وجې د دلایلو په راوړنې سره تحلیل او تفسیر کړي. به مناقشه کې جدولونه او ګرافونه نه راوړل کېږي. د اړتیا پر مهال کنفرانس ورکونکی غواړي چې د نوو موندنو عمده ټکي د نورو څېړونکو د کار له پایلو سره پرتله کړي، په دې صورت کې مستند کول اړین دي. دا هم باید ووایو چې په کنفرانس کې د مناقشې راوړل حتمي، نه بلکې اختیاري دي.

**پایله**

په پایله کې د کنفرانس له محتوا څخه تر لاسه شوې پایلې د موضوع د موخې پر بنسټ وړاندې کېږي. هڅه دې وشي چې پایله اخیستنه د کنفرانس د مناقشې یا مسالې او موخې په پام کې نیولو سره وړاندې شي. څو په روښانه ډول څرګنده شي چې کنفرانس ورکونکي د مسالې حل لارې څه ډول وړاندې کوي. پایله باید ډېره روښانه وي او د موضوع له اډانې بهر نه شي، همدارنګه د پایلو او تطبیق پر کاري یا عملي اړخ بحث وشي. دلته هم د مناقشې په څېر د شکلونو او ګرافونو راوړل معمول نه دي. د پایلې په پای کې د موضوع اړوند وړاندیزونه راوړل هم حتمي دي. د مادو او شمېرو په بڼه د پایلې راوړل او تنظیم مناسب نه دي.

**د سرچینو لړلیک**

په منظم ډول سره په کنفرانس کې د کارېدلو سرچینو راوړل حتمي او اړین دي.

ترتیب‌کننده: څېړنو او علمي مجلې معاونیت / بغلان پوهنتون